مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۲۶/۰۳/۰۵

غازي ببرک خان ځدران ته د لمر اعلي نښان، د کابل علم او جهل منار کې نوم حکيدل

دويمه او ورستۍ برخه

شهيد ببرك خان ځدران رحمه الله د افغان تاريخ پوهانو او ليکوالو له ليدلوري

مخکې تر دې چې د افغان ملي شخصيت غازي ببرک خان خدران د ژوند، ملي مبارزو او تاريخي کارنامو په اړه د هېواد ځينو نومياليو تاريخپوهانو، مورخينو کارپوهانو او وتلو ملي ليکوالانو نظرونه وړاندې شي. لومړی د غازی ببرک خان په اړه د افغانستان د دوو مقتدرو شاهانو نظرونه وړاندې کيږي.

د اوسپنيزه امير عبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال کله چې غازي ببرك خان ځدران د لويي پکتيا په سيمه کې د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې د دوولسو تانو مسوولیت په غاړه درلود، د همدې تانو د لارې يې د خپل هېواد ځمکنۍ حريم ساتنه کوله، امير عبدالرحمن خان د ببرک خان ځدران د رينښتوالي، زړورتيا او هيوادپالنې ته په پام سره د خپل ژوند په وروستيو کې يوه ځانګړې فرمان کې په خپل قلم خپلو زامنو ته د غازي ببرك خان ځدران په اړه داسې وليکل:

,,هر څوك چې تر ما وروسته د کابل پر تخت کيني، هغه ته زما دا سپارښتنه ده,,, چې غازي ببرك خان ځدران د وطن يو رينښتينی خدمتګار، تکړه، وتلی عسکر او د خپل دين او وطن يو صادق شخص دی، نو تاسو بۀ په هر حالت کې د غازي ببرك خان ځدران او د هغه د کورنۍ قدر کوئ او د دين او وطن په لاره کې به د هغوی خدمتونو ته د قدر اوعزت په سترګه ګورې.,,

د افغانستان د خپلواکۍ ستوری ستر غازي امان الله خان هم د کابل ارګ په يوۀ تالار کې په داسې حال کې، چې د غازي ببرك خان ځدران په ټټر يې د اماني شاهي دولت او د هغې وخت تر ټولو علی درجه مډال ياني,, لمرعلی درجه نښان,, په خپلو مبارکو لاسونو ورټومبلو، د ببرک خان ځدران د شخصيت په اړه داسې وفرمايل: ,, غازي ببرك خان ځدران د هېواد يو لوړ رتبه منصبدار د خپل قوم مشر د خپلواکۍ د جګړې ستر قهرمان او يو ننګيالی غازي دی چې بايد تردې هم لوړ وويارل شي.

د هېواد ستر ليکوال علامه پوهاند عبدالحی حبيبي د غازي ببرک خان ځدران په اړه په خپله يوه مقاله کې داسې ليکلي دي. غازي ببرك خان ځدران تر ټولو ستره خوشبختي په دې کې و، چې غازي امان الله خان پرې تر ټولو قومندانانو زيات باور کاوۀ او له همدې امله چې د شلمې پيړۍ په اوائيلو کې دۀ د اشوبونو او سازماندهي شويو چالشونو په د منځه وړلو او قرارولو کې خپله مېرانه او صداقت ښوولی ؤ.

ليکوال او څېړنپوه محمدعارف غروال ,, د افغانستان د خپلواکی د بيا تر لاسه کولو او اتلانو ياد,, کتاب ليکوال د همدې کتاب په لومړی پاڼه کې د اهداء په برخه کې داسې ليکي: د هيواد هغو غازيانو او اتلانو ته چې خپله ځاځکي ځاځکي وينه يې د دين او وطن د خدمت په لار کې نذرانه کړي ده. د هيواد هغو نورو او پتمونو ميړنو ته چې خپلې اسلامي او ملي ګټې يې تر هر څه لوړې بللې او په دې لار کې يې سرونه قربان کړي دي او د وطن هغو رينښتينو خدمتګارانو ته چې خپله ګټه يې د خپل ملت په ګټه کې لټولې ده او په دې لار کې يې نه سترې کيدونکي هلې ځلې جاري ساتلې دي. غازي بابا ببرك خان ځدران د هېواد د هغو ملي اتلانو له جملې څخه ګڼي، چې د وطن په ملي روحيه يې د تاريخ پاڼو ته تلپاتي حماسي سپارلي دي او خپل هېواد ته يې د قدر وړ خدمتونه ترسره کړي دي. ليکوال غروال ببرك خان ځدران هغه پښتون غازي بولي چې انګريزانو ته يې د سر په کاسه کې اوبه ورکړي او اجازه يې ورنه کړه چې زمور خاوري ته يوه لوښته نوره را ډمخه شي.

د هېواد تکړه ورځپاڼه ليکونکی او شننونکی توريالی ځاځی ليکي: زه لا ډير کشروم او په کابل کې د رحمن بابا ليسې په اووم ټولګي کې مې درس لوستلو، خو کله به چې بنار ته راغلم نو خامخا به د کابل سيند پر غاړه د تيمورشاهي پارک ترڅنګ عکاسخاني ته يو ځل ورتللم او د هغې په وترين کې به مې د نورو تاريخي عکسونو تر څنګ د غازي ببرک خان ځدران او د هغه د کورنۍ د نورو غړو د عکسونو ننداره کوله او له دې نندې څخه به مې خوند اخيست، زما د ځواني د عمر د ملي احساساتو مېنه پرې ماتيده او تسل به مې پرې کيده چې د هيواد د معاصر تاريخ له مطالعې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سره زما علاقه هم له همدي ځايه پيل شوه. ,, د يادولو وړ ده، چې ما ليکوال همدغه د غازي ببرک خان او زامنو عکسونه د کابل سنيد پر غاړه عکاسخانه کې ليدلي دي.,, ځانې صيب ليکي: بيا ورسته چې زه له ښوونځي او پوهنځي غارغ شوم د خپلو ليکنو او څيړنو په بهير کې مې يوه ارزو يا هيله همدا وه، چې د ببرک خان ځدرانو د ژوند او ملي مبارزې په هکله معلومات راټول او څه پرې وليکم چې په دې کې رامهاجر شوو او دلته د مهاجرت ستونزو دا هر څه راڅخه هيرل کړل. ځانې صيب په دې باور او اند دی چې,, زموږ په ګران وطن کې د بې اتفاقۍ او اختلافاتو پيداکونکو عناصرو او حلقو لپاره د غازي ببرک خان ځدرانو د خدمتونو، ملي مبارزې او وطنپالنې ويارلي کارنامې يو ستر پيغور وي او هيله لري، چې پند او عبرت ترينه واخلي او د ختلاف په ځای اتفاق ته ملا وتړي. ببرک خان ځدرانو د يوه غازي په حيث، د هيواد د يوه اتل سپاهي په حيث يې د وطن د دفاع او نجات په لاره کې تر وروستۍ سلګۍ پورې مجاهده وکړه او خپل خوږ ژوند يې د هېواد او هېوادوالو په دفاع او ژغورلو کې تر ورستۍ سلګۍ پورې خپل خوږ ژوند يې له خپل وطن او هيوادوالو قربان کړ. نو په دې اساس دی يوازې د لويې پکتيا نه، بلکې د ټول هېواد او هېوادوالو رښتينی خدمتګار ؤ او غازي امان الله خان هم ځکه نومورې ته د دۀ د خدمتونو، صداقت، تقوا او وطن دوستۍ په بدل کې د لمرعلی درجه نښان ورکړی ؤ.

د افغانستان وتلی منلی ليکوال ډاکټر عبدالرحمن زماني ليکي: د ببرک زی کورنۍ مشر غازي او بيا شهيد ببرک خان ځدرانو د لويې پکتيا ,, پکتيا خوست او پکتيا,, يو نامتو ولسي مشر، د خپلواکې د جګړې اتل او د غازي امان الله خان او د اماني نهضت د ارمانونو يو سرتېرې پلوي و. غازي ببرک خان ځدرانو د مزرک خان زوی د۱۲۴۱ لمرېز هجري۱۸۶۱ م کال په شاو خوا کې د خوست ښار لويدېز ته په ۲۳ کيلومتري کې د ګيډورې په کلي کې چې د خوست / کابل ترمنځ غځيدلي لويې لارې ته ورځېرمه پرته سېمه ده، زيږيدلی و. ده خپل ژوند په خواری او غريبۍ پيل کړی و، او د سېمې د نورو ځوانانو په شان يې د غرونو د جنګ او د وسلې چلولو مهارت زده و. د نولسمې ميلادي پيړۍ په پای کې ببرک خان هغه وخت د امير عبد الرحمن پام ځان ته واړه، چې پر انګرېزانو يې غلچکې بريدونه وکړل. هغه وخت د ډيورنډ تړون شوی و. او انګرېزانو ته دا د افغانستان له خوا په هند تيری ښکاريدو نو امير ته يې شکايت وکړو. امير عبدالرحمن د پکتيا حاکم شيريندل خان ته فرمان واستوه، چې ببرک خان دې ورته حاضر کړي. ببرک خان کابل ته ورغلو او امير سره يې وليدل. سراج التواريخ په دې هکله ليکي چې ,, د ببرک خان ... حضرت والا ته ورسېد، او د هغه پام يې واوړو او عواطف او مهرباني يې وپاروله. هغه ته د امير له خوا د المري په کلي کې ځمکه او ملکي غونډ مشري ورکړل شوه. کله چې له کابل نه د امرالدين خان په مشرۍ يو هيت راغلو چې د انګرېزانو د نقشې له مخې سرحدي حدود ورته په نښه کړي، نو د سرحد له معلومولو ورسته غازي ببرک خان د سرحد په اوږدو کې دولس ټاني جوړې کړې چې اوس هم دغه ټاني د ده په نوم يادېږي.

دی په ۱۸۹۸ م ۱۲۷۷ لمريز کال د خوست د سېمې د امنيت مشر او خاصه دار و. چې د هغې سېمې امنيت يې د يو تړون له مخې ساته. کله چې په ۱۹۱۲ م کې امير حبيب الله د واکمنۍ په وړاندې منلګو او احمدزيو بغاوت وکړ نو ببرک خان د حکومت ملاتړ وکړو. په ۱۹۱۷ م کې هم دې د خوست د امنيتي چارو ناظم و.

په ۱۹۱۹ م کال کې کله چې غازي امان الله خان واک ترلاسه کړو، نو ببرک خان د سيد موسی شاه مندوزي سره کابل ته راغلو او هغه ته يې بيعت ورکړ.

ببرک حان ځدرانو په هيواد او ولس مين، ميلمه پال او مهربان شخصيت و. د خانې او مشرۍ با وجود يې د خپلې خاکساري له مخې د ميلمنو پالنه او خدمت کولو. هغه د هوسا ژوند تيرولو پريمانه شخصي امکانات لرل. خو ده خپله هوساينه په وسايلو نه، بلکې د قومونو په اتحاد، اتفاق، عزت او سوکالي کې ليټوله. غازي ببرک خان د شتمنۍ او مشرۍ باوجوده يېلي ,,لوڅي,, پښې ګرځيدو، د صفيه حليم په وينا، له همدې امله نومورې په کابل کې په پښې لوڅې جنرال مشهور و. جنرال يې ځکه باله چې د هيواد د دفاع او د سرحدونو د ساتنې په برخه کې د هغه د غوره خدمتونو، هلو ځلو او مبارزې د قدرداني په موخه اعزازي جرنيلي ورکړ شوی وه. غازي ببرک خان به هر وخت د کارتوسو ګردنې ترلې توپک په لاس او سپين موټي ساتووه به يې په کمربند کې ټومبلي وه. ويل کيږي، چې يوه ورځ غازي امان الله خان تری پوښتنه وکړه، چې ته د لويې پکتيا پيژندل شوی مشر يې، ولې لوڅې پښې ګرځې.؟ ده ورته ځواب ورکړو، چې زه د قام مشر يم او چې خلک مې پښې لوڅې ګرځي، زه ځان ته حق نه ورکوم چې څپلۍ يا بوټان ولرم. ببرک خان د خپلواکې په جګړه کې د انګرېزانو په وړاندې د خپلواکې په دريمه جګړه کې غازي ببرک خان د ټل او وانه په برخه کې د خپلو دوو ننګياليو زامنو مولوي شيرک خان او نايب سالار زمرک خان او د ځدرانو، وزېرو، ټنيو، د لسو زرو ولسي غازيانو په ملګرتيا ستره وندې درلود.

د نګاهي به تاريخ استرداد استقلال کتاب ليکوال عزيزالدين وکيلي فوفلزائي په دې هکله د خپل کتاب په ۶۲ او ۶۳ مخونو کې ليکي: چې,, سردار محمد نادرخان سپه سالار بساعت ۶ شام بمنزل ,, وزه,, وارد و پس از ملاقات با ملکان جدران بتاريخ ۲۷ ثور در وقت صبح عساکر از آنجا کوچ کرد و سپه سالار بساعت ۹ از عقب عساکر حرکت کرد و از باعث خرابی راه اسپ سواری فقير محمد بيطار در يک پرتګاه سقط شد. قوم ملک مګس خان و عسکر ببرک خان از سپه سالار استقبال کردند، ليوک خان (زمرک خان) پسر دوم ببرک خان در راس لشکر قومی خويش حاضر و اهالی درين موقع بيرقی را که بيک طرف ان (نصرمن الله و فتح قريب و بشرالمومنين) و بطرف ديګر آن نشان دولت افغانستان و اسم غازي اعليحضرت امير امان الله خان نقش بود بر افروخته پس از نيم راه پيمايی درعلاقه المره رسيدند و به ساعت ۶ شام در منزل المره که قريه ببرک خان است، وارد شدند.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نومیالي افغان مورخ عزیزالدین وکیلي پوپلزي د فرهنګ کابل باستان د دویم ټوک په ۱۰۲۸ مخ کي د پلازمیني کابل ته د ببرک خان ځدرانِ د شهادت د خبر د رسید په هکله لیکلي: چي,, ببرک خان جدران از مجاهدین جهاد استرداد استقلال افغانستان در جبهه جنوبي در سال ۱۲۹۸ شمسي در برج سنبله سال ۱۳۰۳ هجري شمسي مطابق شهر صفر المطفر سنه ۱۳۴۳ قمري و موافق سپتمبر ۱۹۲۴ میلادي از طرف مخالفین استقلال افغانستان در قرارگاه خوست بدرجه رفیع شهادت رسید,,

وتلي ځیرنواله، خبریاله او لیکواله صفیه حلیم د ببرک خان ځدرانِ د شخصیت په اړه لیکي: د ببرک خان شخصیت د هغو کسانو لپاره یو مثال دی، چي د ژوند هدف یي د نورو چاپلوسي ده. د غرونو یو خړ پړ سړي پخپل ځان دومره باور لرلو چي بیلي پښي دربار ته تلل ورته عیب نه ښکارېدو.

د افغانستان بل تکړه وتلي لیکوال محمد ګل خان مومند لیکي: در سمت جنوبي یا لویي پکتیا ,, پکتیا، خوست و پکتیا,, با نام راد مرد بزرګ دیګر برمي خوریم که عبارت از غازی ببرک خان ځدران است. غازي ببرک خان یک مبارز بزرګ، صاحب تفکر ملی و مترقی، یکی از قهرمانان راه استرداد استقلال، خدمتګار واقعي ملت افغان، سپاهی شجاع و متهور، صاحب علو نفس، شخصیت و کرکتر بي نظیر، مرد متقي، ازاد، و متصف به تمام سجایای عالی انسانی، اسلامی، پشتونولی و افغانیت و مرد نهایت مهمان نواز و غریب پرور و سمبل ایمان داری و وفداری بود.

در زبان عربی یک معقوله است که میګوید:,, رهبر و بزرګ قوم، خادم قوم است,, غازی ببرک خان به معنی واقعی بزرګ قوم و خادم بود، او هیچ وقت مقام و منزلت خود را بالاتر از دیګران، تصور نمی کرد، غازی ببرک خان در تمام طول حیات خود پا برهنه می ګشت چنانکه باری غازی امان الله خان به وی ګفت:,, ببرک خان! خودت مشر بزرګ قوم و منصبدار عالی رتبه دولت و قهرمان راه ازادی و استقلال هستي، پس چرا با وجود داشتن این همه مقام و منزلت بزرګ برهنه پا می ګردی.؟

ببرک خان محترمانه در جواب می ګوید: اعلیضرتا، من هم مانند دیګران یک انسان هستم، از بابت سردی و ګرمی هوا احساس تکلیف می کنیم، ولي مردم و قوم من بي بضاعت، ناتوان و نادار هست و پاها یشان برهنه است، تا زمانیکه قوم من بي بضاعت و با برهنه باشد، نمی خواهم من با ایشان تفاوتی داشته باشم.

از حکایت فوق الذکر معلوم می شود که غازی ببرک خان بزرګ اسیایي خان عبدالغفار به فلسفه مشترکی اعتماد داشتند، چنانکه فخر افغان می فرمود، با وجود که پدرم یک شخص متول و خان بزرګ منطقه و قوم خود بود، زمانیکه دست راست و چپ خود را شناختم، با خدای خود تعهد نمودم که مانند مردم بي بضاعت خود لباس بیوشم و مانند ایشان غذا ساده بخورم.

زمانیکه بعد از کشته شدن امیر حبیب الله خان، اعلیحضرت امان الله خان به فعالیت های کسب بیعت برای زعامت کشور شروع نمود، خواست در زمینه نظر ببرک خان بزرګ را که متنفذ ترین شخصیت لویه پکتیا به شمار می رفت در مورد حاصل نماید. ببرک خان غازی که انسان ازادیخواه و داري تفکر ملی بود و از افکار ازادی طلبانه غازی امان الله اطلاع داشت بیعت خود را از زعامت غازي امان الله ابراز داشت. همزمان اعلیحضرت امان الله خان در مورد قیادت عسکری سمت جنوبی با غازی ببرک خان مشوره نمود، چنانکه ببرک خان، نظر به درایت لیاقت و کارازمودګی نادرخان و هم چنان نفوذ محبوبیتش در ان ولا، به سپردن این قیادت به سپه سالار نادرخان مشوره داد.

امان الله خان بمشوره غازی ببرک خان جامه عمل پوشید و قیادت سمت جنوبی را به سپهسالار نادرخان تفویض نمود. غازی ببرک خان متصل با صدور امر غازی امان الله خان مبنی بر جهاد علیه انګلیس، در یک جرګه بزرګ قومي چنین اظهار نمود: برادران، هموطنان، مجاهدین و قهرمانان حفظ دین و ناموس! امروز پادشاه غازی افغانستان، اعلیحضرت امان الله خان تصمیم ګرفته اند، که یوغ غلامی دولت انګلیس را از شانه ملت افغان بر دارد و ازادی و استقلال کشور را که یګانه ارزوی بزرګ تاریخي مردم ماست، اعاده نماید.

شرافت و سر بلندی یک انسان ازاد در ازادی او نهفته است. به همین منظور مقدس است که امروز ما و شما بمنظور صیانت خاک، نوامیس ملی و دیني و حفاظت عزت، ننګ و ناموس و پشتونولی خود درین جا جمع شد ایم، امروز وقت فیصله و تصمیم مرګ و زند ګی ماست، ما انګاه خود را سر بلند احساس خواهیم نمود که خود را از یو غلامی انګلیس نجات دهیم. من به نوبه خود به قربانی مال و سر و اولاد خود حاضر هستم، اګر شما با من درین جهاد و ارمان مقدس همراه میشوید، همین روز روز ګرفتن تصمیم است.

زمانیکه باشندګان و بزرګان قومي و دیني سمت جنوبی، سخنان بزرګترین رهبر قومي خود را شنیدند، خون جهاد ملی و اسلامي در وجود شان بجوش امد و با نعره های الله و اکبر، امادګی خود را بهر نوع از خود ګذری و قربانی اظهار داشتند. بعدا از پیروزی و موافقیت بزرګ محمد نادر خان در معرکه ,, تل,, مرهون نفوذ قومی و مشا رکت ببرک خان غازی و دو فرزند نامدارش مولوي شیرک خان و نایب سالار زمرک خان می باشد. غازی امان الله خان زمرک خان را به مقام نایب سالاری ترفیع داد.

مومند صیب بیا لیکی: بعد از معرکه ظفر افرین استرداد استقلال در جبهه جنوبی، غازی امان الله خان به منظور اعزاز مبارزان بزرګ راه ازادی دعوت بزرګی در قصر سلطنتی برپا کرد که در ان رجال نظامي و علملی دیني و مشران به شمول سفرای کشور های خارجی و اعضای کوردیپلوماتیم نیز حضور داشتند.

درین احتفال بزرګ اعلیحضرت امان الله خان به دست خود عالی ترین مدال های مملکتي یعنی لمر اعلی را به سینه های قهرمانان بزرګ نعرکه تل یعنی سپه سالار محمد نارد خان، شاه ولی خان، شاه محمود خان و همچنان رهبر

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

بزرگ قومی لویه جرگه پکتیا یعنی غازی ببرک خان نصب کرد نمود. غازی امان الله خان برعلاوهً اعطا مدال به سینه سپهسالار محمد نادر خان، به افتخار غازی محمد نادر خان مینارى استقلال تعمیر نمود.
مومند صیب لیکی: ببرک خان غازی نه تنها خود یک قهرمان ملی بود، بلکه فرزندان او مانند غازی نایب سالار زمرک خان، غازی مولوی شیرک خانو شهید سیدا کبر خان نیز از زمره قهرمانانی است که اسمای مبارک شان زیب اوراق تاریخ وطن بوده و خواند بود.
در پایان جنگ عمومي دوم، متحدین در ردیف کشور های دیگر، از افغانستان نیز خواهش نمود که چون دولت المان نازی سقوط نموده است، دیپلوماتان و اتباع المانی به عنوان یرغمل جنگی به ایشان سپرده شود تا با ایشان به حیث اسیران جنگی برخورد صورت پذیرد.
متحدین اخطار داد در صورت امتناع دولت افغانستان مبنی بر عدم استرداد و احاله دیپلومات ها و اتباع المانی، دولت اتحاد شوروی به قسمت های شمال افغانستان متعرض گردیده و همچنان دولت انگلیس به مناطق جنوبی کشور تجاوز خواهد نمود.
دولت شاهي افغانستان با درنظر داشت حساسیت موضوع و تهدید و اتخاز تصمیم ملی مبتنی بر ارادهً ملت یک لویه جرگه عنعنوي ۱۸۰۰ نفری را به کابل دعوت نمود، درین لویه جرگه علاوه بر اعضا و مشران قومي، علماء و مشایخ، مامورین ارشد دولت، همچنان سفراي کبار و اعضای کور دیپلوماتیک کشور های متحابه نیز اشتراک ورزیده بودند.
ریاست لویه جرگه به نایب سالار صاحب زمرک خان پسر غازی ببرک خان تفویض گردید. برخي از مشترکین لویه جرگه با یک نظر واقع بینانه که افغانستان قدرت مقابله با قواي متحدین را ندارد، بیشنهاد کردند که بهتر خواهد بود که اتباع المانی را به قواي متحدین سپرده شود.
نایب سالار صاحب زمرک خان با شنیدن این پشنهاد، پیشقیض خود را از نیام کشیده و یک گوشه قالین راتوسط ان چندین بار شکاف نمود بعدآ با صدای بلند اعضای لویه جرگه را مخاطب قرار داده فرمود:,, هموطنان عزیز و اعضای محترم لویه جرگه! اگر به کشور ما روس ها تجاوز نمایند یا انگلیس ها، ایشان باید به صراحت بدانند که مردم ما قلوب شان را چنان سوراخ سوراخ خواهد نمود، مثل گوشه این قالین.
انگلیس ها بدانند تجارب تاریخی تهاجمات خود را فراموش نکنند و روس ها نیز باید از تجارب تلخ دولت انگلیس اموخته باشند. نایب سالار زمرک خان ضمن سخن رانی اتشن خود فرمود که او حاضر است تمام مصارف سه ساله جنگ را د جبهات شرقي به دوی دوش خود گیرد، لذا لازم است که لویه جرگه در زمینه تصمیم ملی گریانه اتخاذ و دولت مکلف به انجام آن خواهد بود.
نایب سالار به سخنان خود چنین دوام داد: تمام اتباع المانی درین کشور مهمان اند، و ابروی ماست. ملت با شهامت افغان با عزت افغان، اهانت و بي عزتی مهمان خود را تحمل کرده نمی توانند. اگر المانی ها ارزوی رفتن به وطن خود داشته باشند، تازمان مواصلت شان به المان سفرای روس و انگلیس نزد ما گروگان خواهد بود,,
بعد از نتیجه راي گیري لویه جرگه، با اکثریت قاطع پیشنهاد زمرک خان مورد حمایت قرار گرفت و اتباع المانی با حرمت و عزت لازمه به وطن خود مواصلت نموده، حالت اضطرار در کشور به پایان رسید و امتعه مورد نیاز مردم به وفرت وجود داشت.
مورخ تاریخ استاد قدرت الله حداد نیز به همین ارتباط مطلبي به رشته تحریر کشیده که ذیلاً تقدیم مي گردد: ,, در سال ۱۳۲۰ شمسی، روزي از منزل خود به سوی شوربازار رهسپارگردیدیم، همینکه به سه راهی رسیدم، مردم به طرفي نگاه مي کردند که از طرف بالاحصار مرد مؤقر و با عظمتی به صوب شور بازار در حال حرکت بود. این شخصیت مؤقر، لباس سفید بر تن، قطار وزمه رابه گردن و پیشقبضه اي در کمر داشت، در عقبش دو نفر دیگر در رکاب او حرکت بودند. مردم با بسیار ادب به او سلام می دانند و احترام می گذاردند، این مشر بزرگ دست راست خود را بر سینه گذاشته بود که گویا، پذیرش و جواب به احترام مردم بود. موصوف با بسیار تمکین و متانت گام بر می داشت.
یک ادم گفت: خان صاحب به راستی یک شیر است، ابروی افغانستان راخرید، خان صاحب در لویه جرگه گفت: جرمن ها، ایتالوی ها، چاپاني ها را به دشمنان شان نمی سپارم، مردم جنوبي برای جنگ با انگلیس ها اماده هستند,, این پشتون و افغان بزرگ، زمرک خان ځدرانِ بود، که در لویه جرگه این سخنان را ابراز داشته، و فرداي آن تمام مردم از سخنان وی اطلاح حاصل نمودند. موصوف با سخنان خود در لویه جرگه، شهامت، عزت، حمایت، و مهمانوازی مردم افغانستان را به د نیا ثابت ساخت. لذا عوام و خواص زمرک خان را به چشم یک زعیم ملی، دیده و احترام مي کردند. امان الله خان بعد از کسب استرداد استقلال زمرک خان را مفتخر به مقام نایب سالاری یا ډگرجنرالی نموده بود.
حکومت قشری محمد زی ها، به سرکردگی سردار محمد هاشم خان از نفوذ و نجاهت قومی و ملی غازی زمرک نایب سالار و خانواده اش در هراس بود و در فکر پلان دسیسه علیه او بود تا مبدای زمرک خان و خانواده بزرگش، قدرت را از دست شان بگیرد. مگر نایب سالار زمرک خان و خانواده اش نه در ارزوی اشغال قدرت بوده و نه ارزو داشت، که خون مردم درین راه برپزد.,, اما طوریکه خان صاحب سراج الحق ببرک زی، در مضمون خود ,, د یوه هیوادپال افغان لخوا د پاکستان لومړني وزیر اعظم لیاقت علی وژنه,, تصریح نموده اند، حلقه ها و عناصر

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

مخرب و فرصت طلب در تشديد سوء ظن و بدگماني حكومت عليه خاندان غازی ببرک خان رول عمده و اساسی بازی کردند، تا به سرحدی که به حکومت اطلاعات باطلي رسيد که غازی امان الله خان برای کسب اقتدار به کشور برگشته و در قلعه ببرک خان غازی سکونت اختيار نموده است.
مبتنی بر همچو فتنه انگيزی ها و تبليغات سوء و عاری از حقيقت حکومت محمد هاشم خان، عليه اين خانواده بزرگ به سوقيات عسکری پرداخت و اين خانواده را مجبور به تعبيد به وزيرستان ساخت. دراين جای شکی نيست که خانواده ببرک خان غازی از حاميان غازی امان الله بود و شخص ببرک خان قربانی اين حمايت گشت، ولي خانواده ببرک خان به زعامت نايب سالار صاحب هرگز تلاشی برای فروپاشی حکومت بعمل نياورد.
چنانکه در فيصله جرگه بزرگ وزيرستان که غالباً تحت رياست قهرمان بزرگ راه ازادی و مبارزه عليه دولت انگليس، يعنی غازی ميرزاعلی خان، که به عنوان عکس العمل در برابر تحريکات حکومت کابل در آنجا عليه فيصله به عمل آورد که يک قيام مساحانه بر ضد حکومت کابل صورت پذيرد.
نايب سالار زمرک خان به دليل اينکه، اقدامات منفی حکومت کابل نتيجه دسايسی است که ذهنيت زمامداران افغانستان را بر عليه خاندانش مغشوش ساخته تا موجب تيرگی اوضاع گرديده و وحدت ملی را دچار مخاطره سازد، با درايت خاص آن فيصله را نپذيرفته و بعد از سه سال اقامت در وزيرستان به شهر ,, ايبت اباد,, تحت تسلط هند برتانوي مهاجرت نمود.
د لوېي پکتيا وتلي ليکوال او څېړنوال الحاج ګل شريف هڅاند د غازي ببرک خان ځُدرانِ تاريخي جنګي کلا په هکله ليکي: امير عبدالرحمن خان د ۱۸۸۰ م کال په جولای کي د افغانستان سلطنت ته ورسيد او د هغه جوړ جاړي له مخي چې د انګريزانو سره يې کړی و، د ډيورنډ فرضي کربنې سره يې توافق کړي وه. خو د غازيانو له خوا د منلو وړ نه وه. ځکه به يې وخت ناوخت د همدې کربنې په اوږدو کي د انګريزانو په وړاندې چريکي جګړې کولې. يو له دې ډلې غازيانو څخه د لوېي پکتيا په اړوندو سيمو کي ببرک خان ځُدرانِ و، چې د انګريزانو په وړاندې يې د حاکمانو سره د همغږیِ پرته د هغې مينې له مخې چې د هيواد او ازادیِ سره يې درلوده خپل جدو جهد او بريدونو ته دوام ورکاوه. په پای کي يې نيواکګر سخت په تنګ او ديته اړ کړل چې له نوموړي څخه امير عبدالرحمن خان ته ګيله او شکوه وکړي. امير د پکتيا حاکم شريندل خان څخه وغوښتل ببرک خان ځُدرانِ چې تازه ځُوانیِ ته رسيدلی و پلازميني ته وروليږي. همداسي وشول. ببرک خان ځُدرانِ د امير عبدالرحمن خان په حضور مشرف شو.
په سراج التواريخ کي ليکي: کله چې د ببرک خان عريضه عبدالرحمن خان ته ورسيده د هغه پام يې واړوه او د نوموړي عواطف او مهرباني وپاروله د نوموړي ځانګړني خوښي شوي. لومړیِ يې نوموړي ته کرماني بالاپوش او زرينه پيښوریِ لونګیِ ډالی کړه. ورپسې يې د پکتيا حاکم شريندل خان ته امر وکړ، چې په ګيډاوره کي پير کلي ته څيرمه ځمکه ببرک خان ځُدرانِ ته ورکړي. همدا شان يې ببرک خان ځُدرانِ ته د ملکيِ غنډ مشري او د اعزازي جنرال رتبه منظوره او د پکتيا د ټولو سرحدونو د رسمي څارنې او ساتنې دنده هم وروسپارله.
له دې نه علاوه او ډير اهميت نه برخمنه خو دا چې د امير له لوري غازي ببرک خان ته د يوې ډيرې قوي او تسخير نه منونکي پوځي، جنګي کلا نقشه هم منظوره شوه. دغه کلا چې ټول لګښت يې د امير له لوري ورکول کيده د نوموړي د سلطنت په مهال په څلور جريبه ځمکه کي ډيزاين، نقشه او جوړه شوي وه. د کلا چاردیوالي ديوال سور ۳ ګزه او لوړوالی يې ۷ مترو. څلور برجونه چې قطر يې له ۱۱-۹ مترو پورې و، دري دارې ,,دروازې,, جومات، انتظار خونه، ميلمستون، بڼ، د اوبو ډنډ چې د اړتيا,,کلابندی,, په مهال ځُينې ګټه اخيستل کيده، د کلا د ننه نه د تلو-راتلو زيرزميني لاره، دفاعي ديوالونه، د ترصد اړين ساختماني جوړښتونه او تيرکشونه درلودل. کلا د پخو خټو په پخځو وهل شوي وه. د ديوالونو او برجونو ترمنځ په کي خښتي او په ځُينو نقطو کي د اړتيا له مخې ډبرې هم کارول شوي وې. تر دې کچې کلکه او نه نيوونکي کلا وه چې تر پايه يې هيڅوک په نيولو بريالي نه شول او ناتسخيره پاته شوه. نوټ: د دې کورنیِ د يوه غړي سراج ببرک زی په قول دا کلا د امير عبدالرحمن خان په امر او جنوبي قومونو: منګلو، ځُدرانو، ځاځيو، خوستوالو او خروټو په بيګارو جوړه شوي او درېيو زرو کسانو په کي د سرحد ساتلو د پاره وړيا اربکيتوب کاوه. د يادولو ده چې د کلا له منځه تلو د مخنيوي په موخه د کلا بيا رغولو ته جدي اړتيا ده. د اطلاعات او کلتور وزارت پخوانی فرهنګي معين خدای بخښلي پوهاند محمد رسول باوري په خپل وخت کي د هيواد په ملي راډيو- تلويزيون کي د فرهنګي ميراثونو په نامه يوه تلويزيوني خپرونه خپروله چې د هيواد تاريخي ابدات به يې په مستنده توګه ثبت او نشرول. اروښاد باوري په خوست کي د يو شمير نورو تاريخي ځايونو ترڅنګ له دې کلا څخه د نيږدې ليدنه کړي او په اړه يې مستند تلويزيوني فلم برابر کړی چې په يوه برخه کي يې داسي يادونه کوي:
د غازي ببرک خان تاريخي جنګي کلا دري ځانګړني درلودې:
۱ - دغه کلا د يوې تاريخي پيښې انعکاس و
۲ - دغې تاريخي کلا يو ځانګړی جوړښت درلود.
۳ - دغې تاريخي کلا راتلونکو نسلونو ته د ميراني او اتلوالیِ الهام ورکاوه .
له دې امله يې دغه کلا د افغانستان په تاريخي ابداتو کي شامله کړي ده.
د ويلو ده کله چې اروښاد باوري د اطلاعات او کلتور وزارت مرستيال و، د دې کلا د ليدو او سروې په موخه خپله خوست او د نادرشاه کوټ ولسوالیِ ګيډاوریِ سيمې ته چيرې چې دا کلا موقعيت لري تللی، سروې يې کړي، د ترميم اوبيا رغاونې ژمنه يې کړي وه.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریِ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پاتي دي نه وي چې امیرعبدالرحمن خان د ببرک خان سره د لیدنې په مهال نومورې ته د پولې په اوږدو کې د دوولسو امنیتي پوستو چې د ده په نوم یادیدې امر هم ورکړی و. د یادو امنیتي هرې پوستې موقعیت د یوه پلاوي له لوري چې د امرالدین په نام کس یې په سر کې و نومورې ته په نښه شوی و.
یو وخت د یوې امنیتي پوستې په موقعیت کې د انګریزانوسره ټکر رامنځ ته شو. د ستونزې د حل له پاره له پلازمیني پلاوی راواستول شو. کله یې چې نقشې ته مراجعه وکړه حق د غازي ببرک خان پر خوا و. په پایله کې انګریزي عسکر په شا شول.
په ۱۲۷۷ هجري.شمسي کال د امیر حبیب الله خان د سلطنت په مهال د منګلو- احمدزیو د جنګ په وخت کې غازي ببرک خان چې د دولت پلوي و د حبیب الله خان له لوري د ملاتړنه برخمن و.
همدا شان په ۱۹۱۹ م کال د امیر امان الله خان سره نیږدې او د نومورې له ملاتړه برخمن پاتې شوی دی. کله چې امان الله خان د ازادۍ جګړې د پیل په موخه د باروسوخه خلکو سره سلا مشورې کولې نو ببرک خان یې هم وروغوښت. نومورې د سید موسی مندوزي په ملتیا پلازمیني ته ورغی.
امان الله خان د انګریزانو څخه د ازادۍ اخیستو په موخه د جنوبي محاذ د پرانیستلو په اړوند لومړی د ببرک خان مشورې او نظریې او په پای کې یې د چارو د ښه سمون په موخه د ده وړاندیزونه واوریدل. په وړاندیزونو کې د سردار محمد نادر خان چې هغه مهال په بند کې و ازادیدل او د جنوبي محاذ د سپهسالار په توګه ټاکل کیدل هم شامل وو. امان الله خان د ده وړاندیز ومانه او محمد نادر خان یې د جنوبي محاذ لوی بولندوی وټاکه. لږ وخت پس نادر خان د خپلو دوو وروڼو سردار شاه محمود خان او سردار شاه ولي خان سره د خوست په لور وخوځیدل او لومړۍ شپه یې د ببرک خان ځدرانِ په یاده تاریخي، جنګي کلا کې تیره کړه.
غازي ببرک خان ځدرانِ د لویې پکتیا د بیلا- بیلو قومونو څخه د څلور زره کسیز لښکر د چمتو کولو وروسته د خپلو دوو زامنو هر یو شیرک او زمرک سره یو ځای د خوست په مرکز کې د نادر خان له لښکرو سره یو ځای او بیا د انګریزانو په ضد د خپلواکۍ جګړې تودو سنګرونو په لورپه خورا عالي روحیه وخوځیدل.
په ۱۹۲۵ م کال شینوارو قوم او ورپسې د ملا عبدالله خان ګردیزي او ملا عبدالرشید په مشرۍ د پکتیا قومونو د امیر امان الله خان پر ضد شورش وکړ. غازي ببرک خان ځدرانِ د شورش ارامولو له پاره د امان الله خان په پلوي جنګیدو. د جنګ په ډګر کې د ده یو ملګری غزني خان ټپي او ده ته یې ورغږ کړ. ببرک خان په داسي حال کې چې نومورې یې پورته کاوه په سینه ګولۍ وخوړه او ځای پر ځای د ۶۳ کالونو په عمر وفات شو.
هو! مور دې کښینې داسې زوی دې زیږوي. د دې لوړ شخصیت او ملي مبارز قبر دې منور او ځیوده دې څراغانه اوسي.
د لویې پکتیا بل وتلي لیکوال نظیم ګل ځدرانِ لیکي: ګران افغانستان چې هره لویشت خاوره یې د خپلو او پردیو په وینو سره ده او خپله بیساري طبیعي ښکلا، پاکه هوا، سپینې، خوږې او بهانده اوبه، پریمانه طبیعي شتمنۍ او د څلور کنجه نړۍ د زوروآورو د لښکر کشیو او تاراکونو په لاره کې پروت ستراتیژیک موقعیت ور پورې اور دي، د خپل تاریخ په اوږدو کې همیشه له هرې خوا څخه ورته غاښونه چیچل کېده او وخت پر وخت د یرغلګرو او ښکیلاکګرو تر بریدونو لاندې راغلی دی.
خو د تاریخ په دې کشمکشونو کې یو شمیر ملي شخصیتونه او اتلان هم د عمل او مبارزې ډګر ته را وتلي او د تاریخ پاڼو ته یې سترې کارنامې او حماسي سپارلي دي.
کله هم چې زمورِ په خاوره بهرنۍ یرغل شوی دی، د همدې ملي مبارزینو او اتلانو له غوڅ دریځ او کلک مقاومت سره مخ شوي او په تیښته زمورِ له پاکې خاورې څخه وتلو ته اړ شوي دي.
که مورِ د میرویس نیکه نه را نیولې بیا تر ننه پورې د خپل تاریخ پاڼې را واړوو، نو ډېر داسې شخصیتونه او اتلان به مو تر سترګو شي، چې زمورِ د ویاړ او افتخار نښې بلل کېږي.
د دغو ملي اتلانو له ډلې یو هم په پښې لوڅې جنرال مشهور، نامتو غازي ببرک خان ځدرانِ دی، چې د انګریزانو تر پښو لاندې یې مځکه سره تبې کړېوه او د سر په کاسه کې یې اوبه ور کړې وې.
د غازي ببرک خان ځدرانِ د ژوند او کارنامو یادونه د دې لپاره هم اړینه ده، چې زمورِ ځوان نسل هغه له اوسنیو " مشرانو " سره پرتله کړي او په دې پوه شي، چې زمورِ پخواني مشران د ډیرې اوسنیو هغو په ځیر وړي، تیټ، غله، فاسد، پردي پال، خاین، خرڅ شوي او د پردیو غلامان او جاسوسان نه وو.
غازي ببرک خان ځدرانِ یوازې د هیواد د دفاع او د استقلال د جګړې اتل جنګیالی او د ښکیلاکګرو پر وړاندې د خرپ او ترپ د جګړو قهرمان نه دی، بلکې د هغه د شخصیت نور بیلا بیل اړخونه لکه: وطندوستي، زړورتیا، میړانه، تقوا، سپیڅلتیا، زړه سوی، مال شیندنه، میلمه پالنه او د راتلونکو نسلونو لپاره د ژور پند او عبرت وړ دي.
نومورې له خپلو یوه ډله غازیانو سره د برتانوي هند سره په سویل ختیځه اوږده پوله کې د انګریز پر تاسیساتو او نظامي مرکزونو وخت نا وخت غلچکي بریدونه کول او دښمن ته یې د خپلې یو ځپک خاورې د لاندې کولو اجازه هم ور نکړه.

عزیزالدین وکیل په خپل کتاب ,, نګاهي مختصر به استر داد استقلال,, کې د ببرک خان په اړه لیکي. ,, د کابل د وزېر اباد د کلي اوسیدونکي د غنډ کوتوالي یو سرتېرې، چې توکل نومیده او د ژوند په ورستیو کلونو کې یې په کابل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کې په دولتي مظبعه کې کار کاوه. ما ته وويل: زه د خپلو سترګو حال وايم، چې کله د ازموينې ټوپونه خوشې کېدل، د ببرک خان ځدرانِ له پښتو ژبې سره ډېره مېنه درلوده، په پښتو يې جنرال نادر خان ته وويل، هو، هو کيږي کيږي، دا توپ به انګرېزانو مات کړي,,. د انګرېزانو له ليکنو ښکاري، چې ببرک خان ځواک ورته لوی ګواښوو.
د هېواد بل وتلي ليکوال کانډيد اکاډميسن ارواښاد انور نومیالي په خپله يوه ليکنه ,, د ازادۍ په معرکه کې د پکتيا د محاذ اوچته رهبري ,, کې د غازي ببرك خان ځدرانِ په اړه داسې ليکلي:,, زمونږ د ډېرې ماتو عمده دليل دا دی، چې همېشه په رهبر پورې تر حد ډېر ترلې پاتې شوي يو، خو سم بغاوت همېشه ښه پايلې لري او د غازي ببرك خان ځدرانِ هوښياري هم په دې کې وه چې ډېر په رهبر پورې ترلی نه پاته کېدۀ او پدې پوهېدو، چې که رهبر يې سازش وکړي نو د دوی ټولې هڅې په اوبو لاهو کولای شي او بله خوشبخت په دې کې ؤ، چې رهبريې د دښمن سره هېڅ ډول سازش ونه کړ، ځکه خويې تاريخ نوم په ويار اخلي,,.
اکاډميسن پوهاند علامه ارواښاد عبدالشکور رشاد بابا په خپله يوه مقاله,, د يوه زمري غازي يادونه,, کې غازي ببرك خان ځدرانِ په دې ډول ستايي ,, يوه عجيبه خبره چې پرنګي مورخين هم ورته حيران دي هغه دا ده، چې ببرك خان ځينې داسې جنګي تکتيکونه په کار اچولي ول، چې اوسني حربپوهان يا پيژدونکي هم ورته ګوته په غاښ دي او ممکن له هغو ابتکارونو د جنګي علومو پوهنتونونو زده کوونکيو ته د افغانستان د جګړې د تاريخ د يوې خاصې نوعې په توګه يادونه وشي,,.
عبدالحميد مبارز په خپل يوه ,, تحليل واقعات سياسي افغانستان ,, نومي اثر کې د غازي ببرك خان ځدرانِ د سرښندونکي مبارزې په اړه خپل نظر په دې ډول وړاندې کوي.,, اولين فرمانده قبيلوي که برای تبارز نقش سياسي سمت جنوب شرق کوشش کرد وموفق هم شد، ببرك خان ځدرانِ بود، وی باقيافه متفاوت به رسم ظاهري ان وخت اول يکي نماينده دلسوز و پر مهر مردم به بسيار حالت طبيعي ايفا کرد، تا حد که پايزار را به خاطر نمي پوشيد که مردمش پای لچ بودند، ببرك خان جدران در روند استرداد استقلال افغانستان به رهبري خلاقانهٔ انحضرت امان الله خان غازي به تمام قوت خود چالشهای موجود ازجانب استعمار گران انګليس را درپکتيا ازبين برد وازادي کشور به ارمغان اورد,,.
د افغانستان د ملي تاريخ يو پوه استاد حبيب الله رفيع د غازي ببرک خان په اړه ليکي: افغانستان د تاريخ په بيلو بيلو پېړيو کې که له يوې خوا وخت په وخت د وخت د چپاولګرو او يرغلګرو قوتونو تر برېدونو لاندې راغلی دی، نوله بلې خوا د همدې تاريخي کشمکش په بيلو بيلو دورو کې يو شمېر ملي اتلان هم د عمل ډګر ته راوتلي او د وطنپالنې په ملي روحيه يې د تاريخ پانو ته تلپاتې حماسي سپارلې او خپل هيواد يې د يادونې او قدر وړ خدمتونه کړي دي.
هر ځل چې زمونږ په تاريخي هيواد بهرنی يرغل شوی دی، نو به مقابل کې هر ځل د ملي اتلانو له غوڅ مقاومت سره مخامخ شوي او زمونږ له هيواد څخه په بيرته تللو مجبور شوي دي، که سړی د افغانستان د تاريخ پانې راوړوي، نوله ميرويس نيکه نه نيولې بيا تر نن ورځې پورې به يې ډير داسې ملي شخصيتونه تر نظر تېر شي، چې زمونږ د ويار او افتخار نښې بللې کيږي له دغو تاريخي ځيرو څخه يو هم غلزي ببرک خان ځدرانِ دی، چې د انګرېزانو ته يې د سر په کاسه کې اوبه ورکړي او د دې اجازه يې نه ده ورکړې، چې د هيواد خاورې ته يوه لويشت رادمخه شي.
نومورې ارواښاد ببرك خان يو لوی غازي، ملي تاريخي او ټولنيز شخصيت بولي اوزياتوي: ,, ارواښاد ببرك خان زمونږ د معاصر تاريخ له هغو مجاهدينو، غازيانو او مبارزينو څخه دی چې تر اوسه يې هم د مېړانې او کارنامو کيسې د سيمې د ښځو او نرينه وو په سينو کې خوندي دي او ځينې ليکليو تاريخونو ته يې هم لاره موندلې ده,,.
د پښتو ادبياتو د اوسني ډګر نومیالي ستوری استاد محمد اصف صميم د غازي ځدرانِ د شخصيت او مبارزو په اړه خپل نظر په دې ډول څرګند کړئ دی: ,, زمونږ تاريخ د امير کروړه نيولي زمونږ د ملي خپلواکۍ د ډګر تر سرښندونکي غازي ببرك خان ځدرانِ پورې له حماسو ډک دی، ګران هېواد افغانستان د ملي خپلواکۍ د لارې دا لاروی خو د خپلې فطري ميرانې له مخې هم د لمانځنې او ستاينې وړ دی، خو چې کوم ويار او لمانځنه يې د ملي خپلواکۍ د دې کاروان د مخکښ شاه زلمي غازي امان الله خان د همسنګرۍ له امله په برخه ده په هغې د لا لمانځنې وړ دی او همدا هغه ويارډی چې د تاريخ ملي خپلواکۍ او اتلوالۍ له حافظې به تر قيامته ونه وځي او زه د خپل ملي تاريخ د يو مينوال په توګه د ارواښاد غازي ببرك خان ځدرانِ په اتلوالۍ ويارم,,.
همداراز د سيد قاسم ريښتيا يو اثر دی,, يك ابتد او يك انتهای نظام شاهي در افغانستان,, په دې اثر کې د غازي ببرك خان ځدرانِ د شخصيت په اړه داسې ليکي: ,, تا سال های متمادي که من در درباره ظاهر شاهي بودم از بسيار خاْطر های شرينم پادشاه مهربان سابق افغانستان انحضرت محمد ظاهر يکش در مورد غازي ببرك خان جدران غازي مشهور راه استقلال وطن است، گفتم انحضرت موی سفيدان پکتيا همېشه شکايت مېکند که توجه مرکز برای امور پروژه های باز سازي نسبت په ولايت ايشان کم است، خبر اينطور است: گفته : تا وقت که فداکاريهای مردم پکتيا وغازي ببرك خان ياد اين بنده باشد به هېچ عنوان کاري نخواهد شد که سوی عدالت تلفي شود من بهٔ وزير پلان گپ مېزنم حتماً,,.
ليکوال سردار ولي پښتونزوی ,, د افغانستان د تاريخ جالبه ځيره پښې لوڅی جنرال ليکنه کې ليکي: په ۱۹۹۷ع کال کې په لندن کې يو نندارتون د هغو زړو اسنادو چې ۱۰۰ کاله يې پوره شوي ترتيب شوي و، په دغه نندارتون کې چې عامو خلګو يې نندارە کوله هغه اسناد چې يو وخت اشد محرم وو او اوسېئ ۱۰۰ کاله تېر شوي دي او افشا کېدل يې د بريتانيا حکومت ته کوم زيان نه رسولو، وړاندې کېدل، يو افغان نظامي جنرال چې له دغه نندارتون څخه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

يې ليدنه کتنه کړي، وايي: ,, عجيبه خو دا وه چې په دې نندارتون کې د ببرک خان ځدرانِ يو لوی تور او سپين عکس چې په چوکات کې بند وو اينسوول شو,,

د غازي ببرک خان ځدرانِ د شخصيت او عزت النفس په اړه يو څو خبرې

غازي ببرك خان ځدرانِ د هندوکښ او د پامير هسکو غرونو يو ريښتينی افغان ملي اتل و. افغانان به نن او هم سبا د ملي تاريخ او د ملي خپلواکۍ د لارې غازي ببرک خان په کارنامو او سرښندونکو ملي مبارزو باندې ويارې. غازي ببرك خان په مېرانه، هيوادپالنه، توريالیتوب، ننګياليتو، امانتداري، ريښتونولي، حب الوطن من الايمان او له خپل ګران هېواد څخه د دفاع په لاره کې او د خپل وطني حريم د ساتنې په لاره کې د يو افغان ستوري په څير ځلانده تاريخ ليکلي دی. غازي ببرك خان د خپل ويارلي ژوند په اوږدو کې له خپل ګران هيواد څخه د کلکې دفاع او ساتنې تر څنګ وکولای شول، چې انګريزي نړيوال بښکېلاک ته داسې تاريخي درس ورکړي چې دوی ته د پوهېدلو او مورِ ته د ملي تاريخ د يوۀ مهم څپرکی په توګه په ميراث پاتې شوي. ببرک خان د لوی پکتيا د غرونو رغونو په ځيګه غرنيزه سېمه کې لويې شوي و، هغه تل د منډې په حالت کې و. څو خپلو د خلک ستونزو ته ځان ورورسوي.

غازي ببرک خان نه يوازې د ځدرانو قام بلکې په لويه پکتيا کې نور قومونه هم پرې راټول ول. غازي ببرک خان نه يوازې د لويې پکتيا يو وتلی پيژندل شوي قومي مشر خان و، بلکې د لوی افغانستان د بيا جوړيدو په تاريخ کې يو مخکښ سپيځلي ملي مبارز پيژندل شوي دی. د غازي ببرک خان کورنۍ د ځدرانو په قوم کې يوه ستره کورنۍ ګڼل کيږي. غازي ببرک خان د خوست او لويې پکتيا ولسونو شخړې، دعووې ستونزې د جرګو او مرکو له لارې د ريښتونولي د اصولو له لارې حلو فصلولي. غازي ببرک خان د قومي دعواوو په حلولو کې د شتمن او بې وزلې سړي سره د ريښتونوالی د اصولو او نورمونو له مخې يو ډول چلند کولو او ازادې عدلي منلي فيصلې کولې. د ببرک خان د جرګو او مرکو پرېکړې به خامخا په دواړو خواوو يو شان ته عملي کيدلې. له همدې امله د خوست ولسونو لخوا د ګيډورۍ ځدرانِ د منصفانه مرکو جرګو د پرېکړو له امله د سپينې خولې ځدرانِ په نامه هم يادول. خپله ببرک خان يو ميلمه پال غريبنواز شخصيت و. د غازي ببرک خان حجرې او ميلمستون به تل د ميلمنو او مسافرينو پر مخ خلاصې او ډکې وې. په حجرو کې به په سلګونه ميلمانه او مسافر پراته وو. دا پوښتنه چا نه کوله، چې دا ميلمه سړی څوک دی، له کومه راغلې دی، په کوم دين مذهب او قوم پورې اړه لري. ويل کيده به چې بس دا سړی زمورِ ميلمه دی. هره ورځ به وريجو څو ديګونه بارول او پسونه به حلاليدل او پخيدل. ځانګړو کسانو کارارانو به د ميلمنو د ډوډۍ جوړولو بندوست کولو. ببرک خان به په خپله د يوه دستمال او چلمچې سره پر ميلمنو ګرځيدو، د ميلمنو لاسونو ته بې اوبه وراچولي. د ميلمنو قدر او عزت يې خپل ځان فرض ګڼلو. له همدې امله د ببرک خان نوم د لويې پکتيا څخه تر وزېرستانونو پورې رسيدلي و. يوه ورځ له وزيرستان څخه څو کسه وزېر ميلمانه د ببرک خان ځدرانِ ليدو ته راغلي وو. کله چې ډوډۍ تياره شوه، ببرک خان د ميلمنو لاسونه ته اوبه ورچولي، په دغه وخت کې د وزيرستان څخه راغلي ميلنو پوښتنه وکړه، چې هغه ببرک خان خپله چيرې دی، چې هغه هم ډوډۍ خوړولو ته راشي، د حجرې نورو ناستو ميلمنو چې ببرک خان پيژندلو، وزېرو ميلمنو ته وويل، دغه سړی چې ميلمنو لاسونو ته اوبه وراچوي، همدغه خپله ببرک خان دی. وزېر حک پک او حيران پاتې شول. ببرک خان بې ځايه تشريفات نه غوښيدل او هغه کار به يې کولو، چې د هيواد په ګټه او د خلکو خير به په کې و. غازي ببرک خان په لويه پکتيا کې يو ځواکمن، مخور او شتمن خان و. خو نومورِي ځان د خپلو غريبو خلکو د پښو خاورې حسابوه. له همدې امله يې له عامو افغانانو او غريبانو سره هيڅ توپير نه کيده، ببرک خان به د خپلو خلکو په څير لوڅې پښې ګرځيدو،. ويل به يې چې زما قوم او خلک لوڅې پښې ګرځي، دا زما او زما عزت نفس لپاره ښه خبره نه ده، چې په يوه بې وزله غريب قوم او خلکو کې ځان ته يو هوسا ژوند غوره کړم.

د غازي ببرک خان ځدرانِ ياد:
يو ستوری و د ستور په اسمان کې ځليدو
يو ګل د پسرلی و په بوستان کې غوړيدو
قامونه د پکتيا به وو مدام وربانديِ ټول
په نره له انګرېزانو سره ميدان کې جنګيدو
آزاد و پيدا شو د پکتيا په غرنو کې
,, ببرک,, داسې *پښتون و، هر افغان پرې نازيدو
شمله د افغانيت يې تر آسمانه رسيدله
دا سر د پښتون سرو کله چاته ټيټدو
غروالە چې د غرونو نندارې مې کله وکړه
جرس د آزادی مې ټول جهان کې غږيدو

پاې

د ليکوال: آرشيف

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ